## "یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!"

## لیوهو – لان


انځورګر: منګ چینګ – چیانګ

ژباړه: فرهاد ویاړ


(څلورمه برخه)



د زده کړې د دورې د پای رسیدلو وروسته، هو- لان همغې کلي ته ستانه شوه چې د هغې کلي د میرمنو تر منځ یې تبلیغات کاوه. د ولسونو په ملاتړ او د ګوند د اعتماد په سبب، لیو- هولان د میرمنو د ټولنې مشرې ته وټاکل شوه او د انقلابي کارونو لپاره د میرمنو د سمبالنې لپاره یې زیاتې هلې ځلې پیل کړی.



د ۱۹۴۶ کال په مې میاشت کې، د ګوند مرکزي کمیټې د اعلام سره سم، ارضي رفرم پای ته ورسید. بیوزله او کم عایده بزګران، د ټولو مخې ته د اربابانو د جنایتونو د محکمولو د خبر په اوریدلو سره، ډیر زیات خوشاله شول. د اربابانو ځمکې وویشل شوې او د فئوډالې زبیښاګر سیستم ړنګ شو. په کلي کې داسې یو میټنګ جوړ شو چې په

کي شي تینګ – هیوای، د کلي ارباب محکوم کړي. خو شي وو – تسه، د دهقانانو د اتحادیې منشي، چې ځان یې ارباب ته خرڅ کړی و، د هغې جمبه وکړه. لیوهو- لان، شي وو- تسه ته دلایل راوړل او د هغه په وړاندې مبارزې ته ودریدله.



له دې وروسته، هو- لان د نورې آګاهۍ حاصلولو لپاره، د کلیوالو بیوزلو کورنیو لیدنې ته تلله. هغې د کاکا لي په کور کې د ارضي رفرم په برخه کې د ګوند سیاست تشریح او هغه یې هڅو چې په میټنګ کې وینا وکړي ا و د هغو رنځونو او کړاونو څخه چې یې د ارباب شي تینګ – هیوای په کروندو کې د مټ په توګه زغملي دي، خبرې وکړي.



په میټنګ کې کاکا لي ارباب په قهرجنتیا سره محکوم کړ. خلك قهرجن شوي وو. "مړ دې وي ارباب شي تینګ – هیوای" فریادونو ټول کلی ډك کړی و.



د ارضي رفرم بریالیتوب د ولسونو سیاسي شعور نوې کچې ته لوړ کړ. ځوانان ډله ډله له پوځ سره یوځای کیدل، او لیوهو- لان میرمنې سمبالولې چې د غلې په برابرولو، د بوټانو ګنډلو او اوبدنې سره له جبهې ملاتړ وکړي.